**د پاکستان د وسلوالو ځواکونو زمريان پرېږدئ چې د کشمير پر مخلصو مسلمانانو باندې د مودي کمزورې سلطه، په شرېنګر کې د خلافت د بيرغ په رپولو سره، پای ته ورسوي!**

**اې د پاکستان مخلصو مسلمانانو!**

په غرب کې د يهودي دولت په څېر، هندو دولت هم په کشمير کې پر مخلصو مسلمانانو د ولکې خيال لري په داسې حال کې چې هېڅ حق نه پکې لري؛ دا ځمکه په لسيزو لسيزو د شهيدانو په وينو اوبول شوې. هند پر کشمير باندې د خپلې سلطې لپاره ګامونه اخيستي؛ دغه هېواد د اګېسټ پر ۵مه د کشمير خپلواکي د ولسمشر په يوه سخت فرمان لغوه کړه، نور ځواکونه يې سيمې ته واستول، عامه اړيکې يې پرې کړې، د خپل اشغال پر وړاندې د مقاومت پياوړي ځايونه يې موخه وګرځول او د ۳۷۰مې مادې د ۳۵-الف بند په تر پښو لاندې کولو سره يې د هندو دولت د ځای پر ځای کېدو لارې پرانيستې. د هند دولت د غربي استعمارګرو دولتونو په همغږۍ او د هغوی تر نظارت لاندې د کشمير د سيمې واقعيت بدلوي چې د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې د يهودي دولت د تخنيک په کارولو سره خپله ولکه پر کشمير زياته کړي. په حقيقت کې هند دا تصديق کړه چې د هندي مشرکو حاکمانو په فکر کې د غولولو او چل نيت دی او له مسلمانانو سره سخته دښمني لري. الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا﴾

[سوره المائده: ۸۲]

***ژباړه:*** *ته به د مومنانو په دښمنۍ کې تر ټولو زيات سخت يهوديان او مشرکان ومومې... .*

**اې د پاکستان مخلصو مسلمانانو!**

هندي دولت زموږ پر سپېڅلو مقدساتو بیاځل منګولې خښې کړې، دوی په دې وروستيو کلونو کې د لويو پاڅونونو له امله لږ څه سست شوي وو او بيا ځل د زړور قومندان برهان واني له شهادت وروسته پياوړی شو الله سبحانه و تعالی دې جنت الفردوس نصيب کړي. هندو دولت له بې موراله پوځيانو سره خپله سلطه پياوړې کوي په داسې حال کې چې له داسې کسانو سره مخ دي چې له مړينې نه وېره نه لري، د شهادت غوښتونکي دي او مقابل لوری يې (هندي پوځيان) له تعصبي او قبيلوي سيسټم سره فلج شوي او د ځان وژنې يا هم رواني ناروغيو په لور روان دي. هندو دولت په کشمير د سلطې خيال لري په داسې حال کې چې د هندي دولت د اشغال کمزورتيا

هغه مهال لا زیاته جوته شوه چې سرې کال زمونږ وسلوالو پوځونو په خپلو پیاوړو متو سره، د پاکستان په سپېڅلې هوايي سیمه کې د مودي د بد جنسه برید په ځواب کې یوازې یوه کوچینۍ او کنټرول شوې ضربه ورکړه. په حقیقت کې د الله سبحانه و تعالی په توفیق سره زمونږ زمریانو هندو ډارن ځواکونه ووېرول چې تر اوسه یې په رګونو کې هغه وېره شته.

د پاکستان حاکمانو د منځني ختیځ د حاکمانو په څېر، د دې پر ځای چې پوځې ځواک ته په پوځي ځواک ځواب ورکړي چې د مومنانو زړونه تسکین کړي، هغوی د اشغال لپاره لا زیاته لاره هواره کړه چې سلطه یې لا زیاته شي. بجوا-عمران رژیم د دې لپاره دا کوي چې باید د خپل بادار جاهل شیطان ټرمپ امرونه ومني او د الله سبحانه و تعالی - د دواړو جهانونو رب - له امرونو سرغړونه کوي. دغه سپک رژیم په ډېره بې شرمۍ د کشمیر مخلصې وسله‌والې مبارزې (ترهګري) وبللې، دا د ظالم مودي لپاره خوږه نغمه او شین چراغ و؛ که څه هم الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾

[سوره البقره: ۱۹۱]

*__ژباړه:__ له هغوی سره چې هر چېرې مخامخ شئ وجنګېږئ، هغوی له هغه ځایه وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یئ... .*

دغه ناکاره رېژیم په کشمیر کې مخلصو مجاهدینو ته د وسلوال ځواک د چمتو کولو لپاره له مالي مرستې هم ډډه وکړه او د غربي استعمارګرانو دا غوښتنه یې ومنله چې «د ترهګرۍ مالي ملاتړ مه کوه» که څه هم الله سبحانه و تعالی امر کړی چې:

﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ﴾

[سوره الانفال: ٦٠]

***ژباړه:*** *او تاسو تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت او تيار زين شوي اسونه د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ چې په ې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ چې تاسو يې نه پېژنئ خو الله يې پېژني... .*

د بجوا-عمران خاين رژيم د دې پر ځای چې د مودي ظلمونو ته د غاښ ماتونکي ځواب لپاره وسلوال ځواکونه مرش کړي ، دوی ته د سولې پيغامونه استوي او ان له شيطان ټرمپ څخه غواړي چې منځګړيتوب وکړي؛ په داسې حال کې الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

**﴿فَلاَ تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمْ الأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَ كُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾**

[سوره محمد: ۳۵ ]

***ژباړه:*** *نو تاسو مه بې زړه کېږئ او مه د سولې وړانديز کوئ. همدا تاسو برلاسي کېدونکي ياست. الله ستاسې ملګری دی او هغه به ستاسې عملونه هېڅکله ضايع نه کړي.*

**اې د پاکستان د وسلوال پوځ زمريانو!**

هغه ذات (سبحانه و تعالی) چې ستاسو مرګ او ژوند يې په لاس کې دی فرمايي:

**﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَانِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا﴾**

**[سوره النسا: ۷۵]**

***ژباړه:*** *اخر څه دليل دی چې تاسو د الله په لاره کې د هغو بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نيول شوي او فريادونه کوي چې: «اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي وباسه...».*

او هغه يوازينی پوځي قوماندان چې تاسو يې بايد لار تعقيب کړئ (رسول الله صلی الله عليه و سلم) فرمايلي:

**«مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْجِهَادَ إلاّ ذُلّوا»**

***ژباړه:*** *تر هغې يو قوم جهاد نه پرېږدي څو چې ذليل شوي نه وي.* [احمد]

نو له تاسو مخلصو مبارزينو څخه به کوم يو ژر تر ژره د تکبير نعرې پيل کړي او په شرېنگر کې د بريا او په سيمه کې د هندي واک لپاره د مودي د پلان د پای غوښتونکی شي؟

د نبوت پر تګلاره د خلافت د راتګ لپاره نصرت ورکړئ چې داسې حاکمان واک ولري چې د الله سبحانه و تعالی د رالېږل شوي قانون پر بنسټ حاکميت وکړي. يوازې خلافت به د هند عالي کمېشنري وتړي، کارکوونکي به يې وباسي او زموږ وسلوال پوځ به په کشمير کې د نظامي غبرګون لپاره سره راټول کړي. يوازې خلافت به مسلمانانو ته دا احساسات ورکړي چې د الله سبحانه و تعالی د رضا لپاره دې جګړې ته د مرستې په موخه هڅه وکړي چې خپل هر څه قرباني کړي او د خپلو اولادونو لوږه او ژړا وزغمي، خلافت به هستوي وسلې سره راټولې کړي چې په کشمير کې د جګړې تياتر ختم کړي؛ د کشمير له مسلمانانو سره به مرسته وکړي او د پاکستان مخلص او هيله من ځوانان به دې ته چمتو کړي چې ستاسو تر څنګ ودرېږي. هغه به د نرمۍ پاليسي له منځه يوسي او د کشمير د خپلواکۍ لپاره به ځواک سره راټول کړي، اوس ستاسو وخت دی چې په شرېنګر کې د خلافت بيرغ جګ کړئ او د الله سبحانه و تعالی په لاره کې د شهادت او بريا هيله ولرئ نو پيل يې کړئ. الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾**

[التوبه:١٢٣]

***ژباړه:*** *ای مومنانو ! د حق له هغو منکرانو سره وجنګېږئ چې اسې ته نيژدې دي او بايد هغوی په تاسو کې کلکوالی(زيړوالی) ومومي او وپوهېږي چې الله د پرهېزګارانو ملګری دی.*

**حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**١۴۴٠هـ ق کال د ذوالحجې ٦مه**

**٢٠١٩م کال د اګېسټ ٧مه**